# "ستر پښتون، عالم دین او خدائي خدمتګار"

# علامه حمدالله جان کتوزے

ډاکټر مدرارالله کتوزے

پښتون قام د نړۍ په تاریخ کښې د حُریت پسند یعنې آزادي خوښونکي قام په نوم یادېږي. تاریخ ګواه دے چې کله هم یو غاصب استعمار د دې قوم نه د آزادۍ د نعمت اخستو کوشش کړے دے هغه په خپل کوشش کښې ناکام او نامراد شوے دے.

په هره زمانه کښې الله پاک په دې قام کښې داسې عظیم وګړي پېدا کړي دي، د چا په برکت چې دا قام د غلامۍ د پلیتې پنجې نه محفوظ شوے دے او د پرمختګ په لار روان شوے دے. بایزید انصاري (پیر روښان)، خوشحال خان بابا، ایمل خان، دریاخان، میرویس خان بابا، شېرشاه سوري، حافظ رحمت خان، احمد شاه ابدالی او داسې نور ګڼ شمېر پښتانۀ لاربښودان، د دې قام دپاره د فخر سرمایه دي. چا چې د دې قام د آزادۍ او بقا دپاره هر قسم قربانۍ ورکړې دي.

تاریخ ګواه دے چې پښتون قام هېڅ یو غاصب ته سر نۀ دے ټيټ کړے، پېرنګے سامراج د تجارت په بهانه په اتلسمه پېړۍ کښې برصغیر ته راغلے ؤ، په کال **1755** کښې دوي د دې خاورې د غدارانو په ذریعه په بنګال قبضه وکړه او دغه رنګ په **1857**



کښې د جنګ آزادۍ د دباوهلو نه پس په ټول هند قابض شو. پښتون قام هم د دوي د ظلم او بربریت ښکار شو. په دې زمانه کښې پښتون قام منتشر، جاهل او تباه و برباد ؤ. دوي ته د یو داسې مسیحا ضرورت ؤ چې د دوي د رنځونو علاج وکړي. دا مسیحا د حضرت باچا خان فخر افغان خان عبدالغفار خان په شکل کښې ښکاره شو چا چې د

خپلو تحریکونو "اصلاح الافاغنه" "آزاد سکولونو" او "خدائي خدمتګارۍ" په برکت دا قام یو موتي کړو او د جهالت او دښمنو د تیارو نه ئې رڼاګانو ته راوستو. باچا خان د خپل تحریک په ذریعه سپېرۀ پېرنګي مجبوره کړو چې د دې وطن نه کډه واخلي او دا وطن د دې وطن خپلو خلقو ته پرېږدي.

خدائي خدمتګار تحریک ډېر منظم تحریک ؤ، ټول پښتون قام د دې تحریک سره تړلے او هر قسم قربانۍ ورکولو ته تیار ؤ. د پښتون قام د یووالي او د انګرېز نه د نجات دپاره چې کومو عظیمو هستو د باچا خان سره اوږه په اوږه په دې تحریک کښې برخه اخستې ده. په دې کښې یو نوم د علامه مولوي حمدالله جان کتوزي فاضل دیوبند هم دے. د مولوي صېب نوم د څۀ پېژندګلو محتاج نۀ دے. د پښتون قام دپاره د دوي قربانۍ لکه د نمر ښکاره دي. په پښتنو کښې د خدائي خدمتګارۍ تحریک خورولو او مضبوطولو دپاره مولوي صېب د باچا خان په وېنا په ټوله پښتونخوا کښې ګرځېدلے ؤ.

مولوي حمدالله جان د چارسدې ضلعې د شبقدر تحصیل په تاریخي کلي کتوزو کښې په کال 1914 کښې د ارباب مظفرالدین کره زېږېدلے ؤ. د کلي په پرائمري سکول کښې ئې د لوئر مډل پورې تعلیم حاصل کړو. د علم د تندې ماتولو دپاره د خپل کلي د ډاګ مولوي صېب او د ناظر ګړۍ او میرزو صاحب حق صېب شاګردي ئې اختیار کړه. د علم شوق دوي باجوړ، کټ کوټ، صوابۍ، زروبۍ، تیراه او چکېسر ته ورسول او هلته ئې د لویو لویو عالمانو نه د ادب، میراث، فنون، حدیث، فقه، منطق وغیره کتابونه ولوستل. د دې نه پس 1943 کښې د دورۀ حدیث دپاره د دنیا عظیمې علمي درسګاه دارالعلوم دیوبند ته لاړو او هلته د مولانا حسین احمد مدني، خطیب ایشیاء حضرت مولانا عطاءالله شاه بخاري، حضرت مولانا عبدالحق، علامه شمس الحق افغاني د مجلس او شاګردۍ سعادت ورته حاصل شو. د دارالعلوم دیوبند نه د فارغېدو نه پس خپل کلي ته راغے او درس وتدریس او د پښتون قام خدمت ته ئې ملا وتړله.

په دغه زمانه کښې د پېرنګي خلاف د پښتنو تحریک په ډېره ترقۍ کښې روان ؤ. مولانا صېب په دې تحریک کښې په ډېره ګرم جوشۍ سره برخه واخسته. د حضرت باچا خان او مولانا عبدالرحیم پوپلزي سره جېل ته ولېږلے شو. د 1977 په قومي تحریک کښې ئې د بېګم نسیم ولي خان سره اوږه په اوږه حصه واخسته د ټولې صوبې دورې ئې وکړې او په پښتنو کښې ئې قامي بېداري راپېدا کړه. د قومي اتحاد په اخري جلسه چې په چوک یادګار کښې وه، مولانا صېب ډېر ولوله انګېز او موثر تقریر وکړو هم په دغه موقع ګرفتار کړے شو او د هري پور جېل ته ولېږلے شو. د اجمل خټک، غلام احمد بلور، بشیر احمد بلور، ارباب سیف الرحمان او نورو خدائي خدمتګارانو سره ډېر وخت په جېل کښې پاتې شو. د 1977 مارشل لاء لګېدلو نه پس آزاد کړے شو. د جېل د آزادېدو نه پس کلي ته راغے، د درس او تدریس او پښتون قام په اصلاحي کارونو کښې مشغول شو.

مولانا صېب یو کلک پښتون، خدائي خدمتګار او په پښتون قام مئین د باچا خان د

قافلې سپاهي، ستر او مخلص بې لالچه پښتون لاربنود ؤ. دوي ته خو خو ځله د قيوم خان، ذوالفقار بوټو او ضياءالحق په دور کښې د ښو ښو عهدو پېشکشونه وشول ولې دوي قبول نۀ کړل. دغه رنګ د خپلې پارټۍ د قيادت له طرفه ورته بيا بيا د اليکشن دپاره ټکټونه جاري شول ولې د دوي جواب دا ؤ چې زما د ژوند مقصد د پښتون قام خدمت دے او دا خدمت زۀ هم داسې هم کولے شم.

د مولانا صېب ژوند د پښتون قام د يووالي دپاره د جدوجهد نه عبارت ؤ. په کور، کوڅه، جومات، هديره غرض په هره موقع کښې د مولانا صېب آواز د پښتون د يووالي دپاره ؤ. مولانا صېب له الله پاک ډېر صلاحيتونه ورکړي وو. د دوي فن تحرير بې مثال ؤ او د فن تقرير خو ئې هډو ثاني نۀ ؤ. دوي به چې کله تقرير کولو نو خلق به داسې خاموش وو چې تا به وې چې دلته هډو څوک شته نۀ. د تقرير په دوران کښې به ئې عجيبه او منفرد متلونه استعمالول او د مختلفو ژبو الفاظ به ئې وئيل. د دوي د تقريرونو وجه وه چې په دواوه شبقدر کښې د باچا خان تحريک دومره مضبوط ؤ. مولانا صېب ته په ډېرو ژبو لکه عربۍ، فارسۍ، اردو او انګرېزۍ مکمل عبور حاصل ؤ.

مولانا صېب د محفل او مجلس ښائست ؤ، په مجلس کښې به ټول خلق دوي ته متوجه وو. د مولانا صېب د رحلت نه پس د دواوې شبقدر د محفلونو اوس هېڅ مزه نشته.

ټول عمر د پښتون قام خدمت کولو نه پس مولانا صېب د کم و زيات سل کالو په عمر کښې د دې دارفنا نه دار بقا ته رخصت شو. دا د جنورۍ اتمه نېټه 2008 ؤ. د دوي جنازه د دې علاقې د ټولو نه لويه جنازه وه چې پکښې کم و زيات 45 زره کسانو ګډون وکړو.

مولانا صېب اوس مونږ کښې موجود نۀ دے خو د پښتون قام د يووالي او پرمختګ دپاره چې هغوي کوم جدوجهد کړے ؤ، دا به همېشه ياد ساتلے شي دا د هغوي د محنت نتيجه وه چې دواوه شبقدر اوس هم د خدائي خدمتګارانو مرکز دے او انشاءالله همېشه به وي. مونږ د پښتونخوا د حکومت نه دا مطالبه کوو چې د مرحوم د خدماتو په صله کښې يوه لائبريري يا يو کالج په علاقه کښې د دوي په نوم جوړ يا منسوب کړي.

خدايه څۀ شو هغه ښکلي ښکلي خلق
په ظاهر په باطن سپين سپېځلي خلق
هېڅ خندا مې له دې خلقو سره نۀ شي
ژړوي مې هغه تللي تللي خلق





د پښتو ژبې د مشهور او معروف شاعر او اديب

عبدالرحيم مجذوب ايډوکيټ

## د مجذوب کليات

(دريمه برخه)

د دانش کتاب پلورنځے قصه خانۍ پېښور نه چاپ شو.